# نور محمد ترکي

(۱۳۵۷ـ۱۳۵۸) هـ ل (۱۹۷۸ـ۱۹۷۹)م

نور محمد ترکی د ۱۹۱۳م کال د جولای پر ۱۵ نېټه زېږېدلئ دئ. دی د ویښنو زلمیانو د ډلي غړی وو.



نور محمد ترکي

دی د ډېره وخته څخه د انقلابي فکر څښتن وو. د هغه وخت د حکومت په پټه یي د خلق د دیموکراتیک ګوند (حزب) اساس ایښی وو، ګوند ته یي غړي را بلل او ګوندي غونډې یي کولي.

کله چي په ۱۳٤۳ هـ ل کال د اعلیحضرت محمد ظاهر په وخت کي د لومړي ځل د پاره دیمو کراسي اعلان سوه او سیاسي ګوندونو په ازادي سره و کولای سوه چي فعالیت و کړي. د ۱۳٤۳ هـ ل کال د جدي پر ۱۱ نېټه د خلق دیموکراتیک ګوند د نور محمد ترکي په مشري په رسمي توګه په فعالیت پیل و کړ. د ۱۳٤۵ کال د حمل پر ۲۲ نېټه د خلق اخبار په چاپ پیل و کړ. د دغه ګوند دوه نور لوړ غړي حفیظ الله امین او ببرک کارمل وه.

تر څه فعالیت وروسته د ګوند د مشرانو تر منځ مخالفت پیدا سو. ببرک کارمل د خلق د دیمو کراتیک ګوند څخه جلا سو او د پرچم په نوم یي یوبل ګوند چي مرام یي هغه د خلق د دیموکراتیک ګوند مرام وو، پیل کړ نېټه (۱٤ د ثور ۱۳٤٦). ادا دواړه ګوندونه د هغه وخت شوروي اتحاد ته وفاداره وه او د هغو له خوا مرسته ورسره کېده.

د سردار محمد داود د جمهوریت په وخت کي د سیاسي ګوندونو فعالیتونه منع سوه او څه موده وروسته یي خپل ګوند د ملي غورځنګ په نامه اعلان کړ.

تر دي وروسته په پټه د خلق او پرچم ګوندونه بیا سره یو ځای سوه، کال ۱۳٥٦ د سرطان ۱۲ او بیا یي په فعالیت پیل و کړ. داود خان چي دغه کار نه سو قبلولای نو

يې نورمحمد ترکی ، ببرک کارمل ، حفیظ الله امین او د خلق او پرچم د ګوندونو یو شمېر نور غړي بندیان کړه . هغه وو چي د ۱۳۵۷ هـ ل کال د ثور پر ۷ نېټه د اسلم وطنجار ( چي یو عسکري سړی وو ) له خوا یوه کودتا پیل سوه . داود خان یې په خپل کور کي محاصره کړ . داود خان لا محاصره وو چي نور محمد ترکی او ملګري یې د بند څخه را خلاص سول او حفیظ الله امین د کابل راډیو له لاري د انقلابي شورا بیانیه پیل کړه ، داود خان او د ده د کورنۍ غړي یې له منځه یووړه، نور محمد ترکی د افغانستان د انقلابي شورا د ریس په توګه و ټاکل سو چي له دې ځایه څخه هیواد ته د بد بختۍ دروازه خلاصه سوه .



نور محمد ترکي د هغه وخت د شوروي اتحاد په مرسته په ډیرو ژر تغیراتو لاس پوري کړ . ډېر ژر یې د هیواد پخوانی بیرغ له منځه یوور او پر ځای یې د خلق سور بیرغ منځ ته راوور . دا کار د افغانستان د خلکو د ډیري نا راضۍ سبب و ګرځېد .

ډېر ژر د خلق او پرچم د ګوندونو تر منځ د حکومت د چوکیو پر سر مخالفت پیل سو . د دې کار په نتیجه کي ببرک کارمل پراګ ( چکوسلواکیا) ته د سفیر په توګه و لېږل سو چي د دغه ځای څخه د خلق او پرچم تر منځ ډېر مخالفت پیل سو . دا مخالفت دومره شدید وو لکه د خلقیانو او مجاهدینو تر منځ چي مخالفت وو .

د نور محمد ترکي د حکومت د ناکامۍ سببونه ډېر وه خو یو څو یې په لاندي ډول دي :

۱ ـ د خلق او پرچم د ګوندونو تر منځ بیا مخالفت .
۲ ـ په هیوواد کي د خانانو ، ملایانو ، د نورو ګوندونو د غړو او نورو خلکو بندي کول ، وژل او د شوروي اتحاد پلوي کول .
۳ ـ د ده په نظر د ډېر ژر اصلاحي فرمانونه یو په بل پسې را ایستل .
٤ ـ د خلق د ګوند د غړو پر خپل سر کارونه کول .
٥ ـ د سرمایه دارو هیوادونو له خوا د خلکو لمسول د دوی په مخالفت، دا ځکه چي هغوی د شوروي اتحاد د مخته راتلو په سبب په ببره کي وه .
٦ ـ د ترکي او امین تر منځ مخالفت .

د ترکي او حفیظ الله امین تر منځ مخالفت تر دې اندازې پوري و رسېد چي د یو او بل د وژلو تصمیم یې سره و نیو تر څو حفیظ الله امین بریالی سو چي ترکی د منځه یوسي او په خپله د انقلابي شورا ریس سي. پدې کار د خلق په ګوند کي په ښکاره مخالفتونه منځ ته راغله. یوه ډله د امین پلویان سوه او بله ډله د ترکي پلویان سوه. د دې مخالفت نتیجه به هغه وخت ښکاره سوې وای که امین د ډېر وخت د پاره د قدرت پر سر پاته سوئ وای.